# شتمنی SHTAMANAI

اوونیزه




مـوږ د اسـلامي امـارت ټولـو مسـؤلینو تـه د اللـه تعالـی لـه دربـار څخـه توفیـق غـواړو، چـي لـه خپلـو او ستاسـو غونـدي ځواناـنـو لـه اسـتعدادونو څخـه د هیـواد پـه جوړونـه کـي ګټـه واخـلي، د مالیـې وزارت سـتونزي حـل کـړي، مسـلکي اداره رامنځتـه کـړي او ګـران افغانسـتان تـه پرمختـګ ورکـړي.

د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخند

چهارشنبه | د صفرالمظفر ۱٤-۱٤٤٥ / د وږي ۸ - ۱٤۰۲ / د اګست ۳۰ - ۲۰۲۳ /دوهم کال / ٦۳ ګڼه/ ٤ مخیز




## د ډبرو سکرو د ګمرکي محصول په اړه د ماليې وزارت خبرتیا!



د ډبرو سکرو د صادروونکو اتحادیو د غوښتنو او نړیوالو نرخونو ته په کتو سره د سوداګرو د لا هڅوني په موخه د مالیې، کانونو او پترولیم او د صنعت او سوداګرۍ وزارتونو څخه د جوړې سوي تخنیکي کمېټې په وړاندیز او د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت د پرېکړي له مخي د یوه ټن صادرېدونکو ډبرو سکرو ګمرکي محصول (۳۰) امریکایي ډالرو ته راکښته سو، چي اوس مهال د هیواد په ټولو ګمرکونو کي د پلي کېدو وړ دئ.

د یادوني وړ ده، چي د ډبرو سکرو نړیوالو نرخونو ته په کتو سره د دغه جنس قیمتونه د بدلېدو وړ دي.

## د یو شمېر ولایتونو مستوفیتونو ته نوي مستوفیان معرفي سول






د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت د ځانګړو وړاندیزونو او حکمونو پر بنسټ د جوزجان، فاریاب، کاپیسا، سرپل، بغلان، کندوز، تخار او بدخشان، ولایتونو لپاره نوي مستوفیان معرفي سول.

د عوایدو لوی ریاست د رهبرۍ (د عوایدو لوی رئیس شېر محمد مشفق، حمایوي مرستیال حافظ شاه حسین حسیني، د عواید د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس نداء محمد صدیقي) له لوري د یوه رسمي سفر په ترڅ کي په پرلپسې ډول ښاغلی مولوي محمد صادق حکیمي د بغلان ولایت، ښاغلی الحاج مولوي محمد رفیق فاروقي د تخار ولایت، ښاغلی مولوي محمد دین حق نواز د جوزجان ولایت، مولوي عبدالخالق حقاني د کاپیسا ولایت، ښاغلی مولوي همراه قل سبحاني (حمیدالله) د سرپل ولایت، ښاغلی محمد رحیم ندیم د بدخشان ولایت، ښاغلی مولوي احمد ګل حامد د فاریاب ولایت او ښاغلی ملا عبد الوارث عتیق آخند د کندوز ولایت لپاره د نویو مستوفیانو په توګه د اړوندو ادارو کارکوونکو ته ور وپېژندل سول.

د یادوني وړ ده، چي په مستوفیتونو کي دغه تغییرات او تبدیلات د چارو د ښه والي په موخه ترسره کېږي او تر دې وړاندي هم په ځینو ولایتونو کي ورته تغییرات او تبدیلات ترسره سوي وه.

## د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست مشرتابه په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د اوچا اداري له مرستيال سره وليدل




د عوایدو لوی رئیس الحاج شېر محمد مشفق، د عوایدو حمایوي مرستیال مولوي حافظ شاه حسین حسیني او د حقوقي خدمتونو او د عوایدو د پالیسۍ رئیس ندا محمد صدیقي په حضور کي د ملګرو ملتونو د اوچا یا د بشري مرستو د همغږۍ اداري مرستیال، محمد زید خاطر سره په خپل کارځای کي وکتل.

په دې کتنه کي د عوایدو لوی رئیس وویل: د افغانستان اسلامي امارت له واکمنۍ سره سم د خلکو اساسي او اصلي ستونزي حل سوي دي او که کومي فرعي ستونزي شتون ولري، هغه هم د حل کېدو په حال کي دي. له ملګرو ملتونو څخه زموږ غوښتنه دا ده، چي د امنیتي، اقتصادي او پراختیایي برخو په ګډون په نورو بېلابېلو برخو کي د دغه اسلامي نظام لاسته راوړني په عادلانه توګه منعکسي کړي.

وروسته بیا د اوچا مرستیال وویل: موږ د اوسني غوره امنیتي وضعیت له امله تاسي او د مقام رهبرۍ ته مبارکي وړاندي کوو، چي په همدې امنیتي فضا کي موږ په اسانۍ سره وکولای سول د افغانستان ګوټ ګوټ ته سفر وکړو، موږ دا منو، چي د هیواد اقتصادي وضعیت مخ په ښه کېدو دئ او دا د اسلامي امارت د ښه مدیریت ښکارندویي کوي. موږ پوهېږو، چي د افغانستان له اړوندو ادارو سره همغږي او همکاري به د دې لامل سي، چي خپل پروګرامونه په ښه توګه پلي کړو.

وریسې د اوچا مرستیال د عوایدو د لوی ریاست له مشرتابه څخه وغوښتل، چي له دغه بنسټ سره د همکارو بنسټونو د مالیاتي چارو په برخه کي همکاري وکړي.

په پای کي د عوایدو د حقوقي خدمتونو رئیس ښاغلي صدیقي وویل: موږ نه یوازي دا چي له بشري مرستو څخه هیڅ ډول مالیه نه اخلو؛ بلکي د ټولو بنسټونو په ځانګړې توګه د بشردوستانه مرستو د وېش په برخه کي فعالو ادارو ته مو د مالیې د معافیت د ورکړي پروسه د تېر په پرتله اسانه کړې ده. د هر ډول ملاحظې یا ستونزي د حل په برخه کي موږ درسره پوره همکار یو.

غونډه د ملګرو ملتونو د یاد مسؤل له لوري د اسلامي امارت د چارواکو له همکارۍ څخه د مننې په ویلو سره پای ته ورسېده.

## سرمقاله

### نقش سرمایه گذاری خارجی در رشد اقتصادی کشور

در اقتصاد سرمایه گذاری، به معنی تخصیص منابع مالی به یک یا چند دارایی مختلف برای بدست آوردن منابع با ارزشتر می باشد. سرمایه گذاری میتواند به دو شکل مستقیم و غیر مستقیم صورت گیرد. سرمایه گذاری خارجی بیشتر به عنوان کاتالیز وری برای رشد و ثبات اقتصادی کشورها در آینده دیده می شود. این در حالیست که افراد نیز می تواند به تنهایی سرمایه گذاری های خارجی انجام داده اما بیشتر سرمایه گذاری های خارجی تلاش هایی از سوی شرکت ها، سازمانها و یا گروپ های تجاری با دارایی هایی قابل ملاحضه یی هستند که قصد دارند تا دامنه فعالیت خویش را گسترش دهند. اینکه در حال حاضر جهان بیشتر از هر زمان دیگری در حال جهانی شدن است بدین اساس شرکت ها بیشتر تلاش دارند روند جهانی شدن تجارت را نیز شتاب داده تا به ثبات اقتصادی بیشتر برسند. آنچه در ابتدا به آن اشاره شد که سرمایه گذاری خارجی را میتوان به دو شکل انجام داد یکی سرمایه گذاری به روش مستقیم و دیگر آن به روش غیر مستقیم که از آن لحاظ سرمایه گذاری‌های مستقیم خارجی شامل سرمایه گذاری‌های فیزیکی توسط یک شرکت در یک کشور خارجی، مانند افتتاح کارخانه یا خرید ساختمان یا شرکت ها می باشد. این نوع سرمایه گذاری بیشتر مفید و با ارزشتر میباشد، زیرا اینگونه سرمایه گذاری طویل المدت بوده و به تقویت و رشد کشور بیشتر کمک میکنند. ولی سرمایه گذاری غیر مستقیم بیشتر بر اسهام تمرکز میکند که این نوع سرمایه گذاری چندان بر رشد اقتصادی مفید تمام نمی شود چون شرکت سرمایه گذار میتواند در طول مدت کوتاهی تمامی اسهام خویش را به فروش برساند. نقش سرمایه گذاری خارجی در حال حاضر موتور و توسعه اقتصادی سرمایه پنداشته می شود، ولی کشور های در حال توسعه معمولاً با کمبود بودجه روبه رو بوده، و سرمایه گذاری خارجی بهترین روش برای رونق اقتصادی این کشور ها گفته شده است. سرمایه گذاری های خارجی در کشور ها بر رشد اقتصادی اثرات مثبت نهاده و باعث ثبات دایمی اقتصادی کشور ها گردیده است. در حالیکه افغانستان یکی از کشور های رو به توسعه پنداشته میشود سرمایه گذاری های مستقیم خارجی یکی از بهترین روش برای رونق و ثبات اقتصادی بوده میتواند، سرمایه گذاران می توانند در بخش های تولید برق، زراعت و معادن سرمایه گذاری کرده هم در رشد و توسعه تجارت خویش و هم در ثبات اقتصادی افغانستان نقش مؤثر داشته باشند. برای جذب سرمایه گذاری خارجی در کشور ایجاد فضا مناسب و امن یکی از عناصر مهم پنداشته می شود و سرمایه گذاران می تواند برای رشد تجارت خویش سرمایه گذاری بهتر انجام دهد. خوشبختانه در حال حاضر امنیت نسبی برای سرمایه گذاری در کشور مناسب بوده که بیشتر سرمایه گذاران در تلاش است تا در این کشور سرمایه گذاری نمایند، که بیشتر این سرمایه گذاری در تولید انرژی، زیر بنا و معادن صورت گرفته است از این بابت اقتصاد کشور به سوی خودکفایی رونق اقتصادی بیشتر رسیده می تواند.

**با احترام**

**اداره**




د دولتي شرکتونو ارزونه په پرلپسې ډول ترسره کېږي

م ۲




معین عواید و گمرکات با مسئولین ریاست‌های عمومی عواید و گمرکات دیدار نمود

م ۲



په مالي بنسټونو کي د مالي فساد علتونه، اغېزې او د مخنیوي لارې چارې ئې!

م ۳



کفیل ریاست عمومی عواید وزارت مالیه با مسئولین سکتور دوا و محصولات صحی کشور دیدار نمود




Exact Assessment of State-owned Corporations Puts Them Back Strong Again

م ٤



Notice of MoF regarding customs duty on coal!

م ٤

شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه



## معین عواید و گمرکات با مسئولین ریاست‌های عمومی عواید و گمرکات دیدار نمود




الحاج ملا عبدالقاهر ادریس معین عواید و گمرکات وزارت مالیه در حضورداشت محترم معراج محمد معراج معاون عملیاتی و کفیل ریاست عمومی عواید با مسئولین ریاست های عمومی عواید و گمرکات در دفتر کارش دیدار نمود. در این دیدار روی وصل سازی کامل سیستم های مالی این وزارت با سیستم های مالی بانک مرکزی (د افغانستان بانک) بحث و در راستای دستیابی سریع و مؤثر به این امر تاکید صورت گرفت. همچنان در دیدار متذکره روی ارائه به موقع گزارشات عوایدی ادارات و بهینه سازی امور الکترونیکی سازی این روند بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

## کفیل ریاست عمومی عواید وزارت مالیه با مسئولین سکتور دوا و محصولات صحی کشور دیدار نمود



معراج محمد معراج معاون عملیاتی و کفیل ریاست عمومی عواید وزارت مالیه در تالار جلسات معینیت عواید و گمرکات با محمد یعقوب منگل رئیس اتحادیه متشبثین دوایی و محصولات صحی افغانستان در حضورداشت داکتر میرویس احمدزی رئیس عمومی پالیسی و پلان وزارت صحت عامه، محمد عیسی اصولی رئیس خدمات و مصؤنیت اجتماعی وزارت اقتصاد، مفتی فیض محمد نماینده وزارت صنعت و تجارت و عبدالرحمن وقاد رئیس تعرفه گمرکی وزارت مالیه دیدار نمود. در این نشست، اعضای اتحادیه متشبثین دوایی و محصولات صحی از تامین شدن امنیت ابراز قدردانی نمودند و پیشنهاد خویش را در راستای صورت پذیرفتن خریدهای طبی موسسات بین المللی و خارجی مقیم افغانستان از بازارهای داخلی محصولات دوایی تولیدی و توریدی در راستای تقویت سرمایه گذاری ها در این بخش پیشکش نمودند. رهبری ریاست عمومی عواید به پاسخ این سرمایه گذاران از تعهد همیشگی رهبری این اداره در امر حمایت از سرمایه‌گذاری های صورت گرفته در کشور یادآوری کرده و در زمینه رسیدگی به مشکلات اتحادیه مذکور، به بخش های ذیربط هدایات لازم سپرد.

## د ګمرکونو لوی ریاست د روان کال دیارلسمه اداري ناسته ترسره سوه

د ګمرکونو لوی ریاست د روان کال ۱۳مه اداري ناسته د ګمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د یاد ریاست په مقام کي جوړه سوه. په دې ناسته کي د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر امرینو ګډون کړی وو. له اجنډاء سره سم په دې ناسته کي د اړوندو ورځنیو چارو په لا ښه والي، د وارداتو، صادراتو او بهرني ټرانزیټ په برخه کي د سوداګرو په ستونزو او حل لارو، د سوداګریزو مالونو په ګمرکي طی مراحلو کي په لا روڼتیا او اسانه کولو، په محصولي ګمرکونو کي د رسم ارضي په برخه کي په شته ستونزو او حل لارو او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه هر اړخیزي خبري او اړیني پرېکړي وسوې.

# د دولتي شرکتونو ارزونه په پرلپسې ډول ترسره کیږي

د افغانستان اسلامي امارت د امیرالمؤمنین (حفظه الله) د هدایت پر بنسټ، د نوموړي د ځانګړي استازي مولوي احمد جان بلال په مشرۍ، د دولتي شرکتونو د وضعیت ارزوني په دوام او د دولتي شرکتونو د وضعیت ارزوني په موخه د جوړي سوي ګډي تخنیکي کمېټې له لوري د ماليې وزارت اړوند د (لاسي صنايعو د پراختيا، ملي بس، افغان کارټ، د افغانستان برېښنا، افغان طيور، افغان نساجي او افتنتو) دولتي شرکتونو د ارزوني غونډې هم تر سره سوې. د ارزوني په دې پروسه کي د دولتي شرکتونو د تاریخچو، لومړنیو پانګو، د شرکتونو د پخواني او اوسني وضعیت، بیلانس، عوایدو، لګښتونو، طرحو او پلانونو، تولیزو فعالیتونو، لاسته راوړنو، موجودو ستونزو، پرمختګونو او یو شمېر ګڼو نورو اړوندو مسایلو په تړاو د رهبرۍ پلاوي ته بشپړ معلومات وړاندي سول.

**د لاسي صنايعو د پراختيا دولتي شرکت ارزونه:**

په دې ارزونه کي د لاسي صنايعو د پراختيا دولتي شرکت په اړه بشپړ معلومات وړاندي سول او د شرکت تېر وضعیت او د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته وضعیت ئې بیان سو. د شرکت مسؤلینو وویل، چي دغه شرکت په تېرو درې لسیزو کي غیر فعال ساتل سوی، سیستم ئې له کاره لوېدلی وو، کاري ظرفیت ئې په صفر کچه کي قرار درلود او په بشپړ ډول د زیان په حالت کي پروت وو. د اسلامي امارت له بیا حاکمیت سره د لاسي صنايعو د پراختيا دولتي شرکت یو ځل بیا فعال سو او د یاد شرکت د ودي په برخه کي یو لړ مهم، مثبت بدلونونه رامنځته سول. د شرکت تخریب سوې ودانۍ ورغول سوه، د طلباتو د حصول ډیټابیس جوړ سو، د بازار موندني پلان او د لاسي صنايعو د صادراتي موادو طرزالعمل ترتیب سو، پنځه کلن سوداګریز پلان جوړ سو، د بانکي سیستم له لاري د عوایدو راټولول پیل سول او په بېلابیلو برخو کي اصلاحات رامنځته سول، چي ورسره دغه شرکت په (۱۴۰۱هـ.ل) کال کي د خالصي ګټي په لور خوځښت پیل کړ. همدا راز د کمېټې د تخنیکي غړو له لوري یادونه وسوه، چي دغه شرکت له تاءسیس څخه وروسته په خصوصي بڼه فعالیت کړی، چي اوس باید له خصوصي حالت څخه بشپړ دولتي حالت ته راوګرځي.

**د ملي بس دولتي شرکت ارزونه:**

د ملي بس ښاري مسافر وړونکي دولتي شرکت د وضعیت هر اړخیزه ارزونه وسوه. د شرکت مسؤلینو یادونه وکړه، چي په مرکز او ولایتونو کي (۱۰۴۹) بسونه لري، چي په تېر کي څو محدود شمېر بسونو فعالیت کاوه، خو د اسلامي امارت له بیا حاکمیت سره په مرکز کابل او نورو ولایتونو کي (۱۷۵) بسونه فعال او د خدمتونو وړاندي کولو وړ دي.

د ملي بس ښاري مسافر وړونکي دولتي شرکت د فعالیتونو د لا ودي په موخه د کمېټې د تخنیکي غړو له لوري د بازار موندني، د موټرونو د پېر او ترمیم، د مالي برخي د ښه مدیریت او له ځینو دولتي ادارو سره د شته ستونزو د حل په برخو کي مهمي مشورې، نظرونه او حل لاري وړاندي سوې.

**د افغان کارټ دولتي شرکت ارزونه:**

افغان کارټ دولتي شرکت، د توکو د سوداګرۍ په برخه کي فعالیت کوي. د افغان کارټ دولتي شرکت مسؤلینو د اسلامي امارت له بیا حاکمیت را وروسته د تېرو شلو کلونو په پرتله د شرکت فعالیتونه په بې ساري ډول ښه و ارزول او په عوایدو کي ئې هم د تېر په پرتله د پام وړ مثبت بدلون ته اشاره وکړه، چي د (۱۴۰۰هـ.ل) کال په پرتله په (۱۴۰۱) کال کي د خپلو اساسي فالیتونو؛ لکه: د تازه مېوو صادرول، د دولتي ادارو د اړتیا وړ توکو برابرولو قراردادونه، او د یو شمېر توکو د پلور له درکه، د شرکت په خالصه ګټه کي (۴۴) سلنه ډېروالی په ګوته سو. په اداري برخه کي د مسلکي اشخاصو ګومارلو، د برېښنایي سیستمونو کارولو او د ترتیب سوو سوداګریزو پلانونو څخه هم یادونه وسوه. همدا راز شته ستونزي یادي سوې او د کمېټې د تخنیکي غړو له لوري د حل مناسبي لاري چاري او د شرکت د فعالیتونو د لا پراختیا په موخه، مهمي سپارښتني او لارښووني له مسؤلینو سره شریکي سوې.

**د افغانستان برېښنا دولتي شرکت ارزونه:**

د افغانستان برېښنا دولتي شرکت مسؤلینو د تېر نظام په اوږدو کي د عوایدو د راټولولو په برخه کي د ستونزو یادونه وکړه، چي د اسلامي امارت له بیا حاکمیت سره دغه ستونزي تر ډېره حل سوي او د ضایعاتو مخنیوی سوی، چي ورسره د شرکت په عوایدو کي هم د پخوا په پرتله زیاتوالی راغلی. همدا راز په دې موده کي د برېښنا شرکت وکولای سول، چي د کورنیو خپلواکو، لمریزو او اوبیزو تولیدوونکو سره د خبرو او مذاکراتو په پایله کي، تعرفه راټیټه کړي، چي ورسره د برېښنا شرکت (۲.۲) میلیونه امریکایي ډالره سپما کړې ده. همدا راز له ګاونډیو وارداتي هیوادونو سره د خبرو له لاري د پخوا په پرتله د برېښنا د پېر بیه هم راټیټه سوې ده. د شرکت د مسلکي او تخنیکي ظرفیت لوړوني، سیستم جوړوني، اداري اصلاحاتو او تر څنګ ئې د موجودو ستونزو یادونه هم وسوه او د شرکت په خپلواک ساتلو ټینګار وسو. د کمېټې د تخنیکي غړو له لوري د شرکت د لا پرمختګ او خدمتونو د پراختیا په موخه ستونزو ته د حل لاري او په بېلابېلو برخو کي مهمي لارښووني او سپارښتني تر سره سوې.

**د افغان طیور دولتي شرکت ارزونه:**

افغان طیور دولتي شرکت، چي د چرګانو د غوښو، هګیو، دانو او واکسین د تجارت په برخه کي فعالیت کوي او په دې برخه کي د پولټري ځنځیر فعالول او د خوراکي خوندیتوب لپاره په مارکیټونو او دولتي او غیر دولتي ادارو کي د ایکوسیستم رامنځته کول ئې موخي دي؛ دغه شرکت په تېرو شلو کلونو کي له خورا زیاتو ننګونو سره مخ وو، چي د اسلامي امارت له بیا حاکمیت سره د ماليې وزارت د دولتي شرکتونو لوی ریاست په فعالو هڅو، د افغان طیور دولتي شرکت اداري جوړښت منظم او مسلکي کسان په دندو وګومارل سول. اوسمهال د افغان طیور دولتي شرکت د غوره فعالیتونو د پیل لپاره یو منظم لنډ مهاله او اوږد مهاله پلان ترتیب سوی، چي په تطبیق سره به ئې د شرکت اساسي فعالیتونه پیل سي او په اړوندو برخو کي به د پام وړ لاسته راوړني ولري. د شرکت مسؤلینو د پلانونو د تطبیق په مخ کي پرتې ستونزي راسربېره کړې، چي د کمېټې د تخنیکي غړو له لوري ورته د حل مناسبي لاري چاري وړاندي سوې.

**د افغان نساجي دولتي شرکت ارزونه:**

د افغان نساجي دولتي شرکت، چي د فعالیتونو موخه ئې، د تار او ټوکر تولید او د منسوجاتو د تولید صنعت ته وده ورکول دي، په تېرو څو لسیزو کي د سقوط له حالت سره مخ وو، چي د وخت د حکومتونو د نه پاملرني له امله ئې وسایل او ماشینري لوټ سوې او د اړوندو فابریکو ودانۍ ئې تخریب سوي وې. د اسلامي امارت له بیا حاکمیت سره د ماليې وزارت د مشرتابه د هدایت پر بنسټ، د افغان نساجي فابریکو د فعالېدو چاري د ځینو ماشینریو په ترمیم سره، د پلخمري په نساجي کي پیل سوې او اوسمهال ئې د یوه اندازه تار او ټوکر د تولید چاري رواني دي، چي د شرکت د یو لړ ستونزو له حل او ماشینریو له بشپړ ترمیم سره به دغه شرکت په دې برخه کي په لویه کچه فعالیتونه ترسره کړي. په پای کي د کمېټې د تخنیکي غړو له لوري د شرکت د فعالیتونو د لا پراختیا په موخه ستونزو ته د حل مناسبي لاري چاري وړاندي سوې.

**د افتنتو دولتي شرکت ارزونه:**

افتنتو دولتي شرکت، چي د الکترونیکي وسایلو د تجارت په برخه کي فعالیت کوي، اوسمهال دغه شرکت له کمزوري مالي وضعیت سره مخ دئ، اساسي فعالیتونه نه لري او په اداري برخه کي ئې هم ظرفیت ټیټ دئ. د کمېټې تخنیکي غړو د افتنتو دولتي شرکت اوسنی وضعیت بې ګټې وباله او د شرکت د منحل کولو او یا له یوه بل شرکت سره د مدغم کولو په موخه ئې نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل؛ تر څو په راتلونکي کي د افتنتو شرکت له شته امکاناتو څخه ګټه واخیستل سي او په اړوندو برخو کي ئې سوداګریز فعالیتونه په سمه توګه ترسره سي.

شتمنۍ SHTAMANAI اوونیزه

# په مالي بنسټونو کې د مالي فساد علتونه، اغېزې او د مخنيوي لارې چارې ئې!

استاد عبدالجبار وحدت

ممکن تاسي فساد وپېژنئ، چې معمولاً د قانون ماتولو، وظيفوي غفلت او له صلاحيت څخه د نا سمي ګټې پورته کولو په مانا کارول کېږي، يا معمولاً کله چې يو رسمي کارمند له خپل رسمي صلاحيت څخه شخصي او ناوړه ګټه پورته کړي. همداراز بېلا بېلو ډولونو ته متشمل دئ؛ مثلاً: مالي، اداري، اخلاقي او داسي نور... له بده مرغه فساد ساري ناروغۍ ته ورته دئ، چې له يوه بنسټ څخه بل بنسټ ته په چټکۍ سره انتقاليږي، په بنسټونو باندي هيوادوال بې باوره کوي، د فقر باعث ګرځي، د خلکو د ناهيلۍ، د کارونو د ځنډ، ځنډ، د کيفيت خرابوالي او په لويه کي د نظامونو د اقتصادي رکود باعث ګرځي. معمولاً د هيواد د اقتصادي ثبات لپاره د فساد په کلي ډول ختمول اړين دئ، بايد په تمامه مانا مالي مديريت رامنځته سي؛ تر څو په هره برخه کي پوره روڼتيا رامنځته سي. له بده مرغه بايد دا يادونه وکړو، چې د اسلامي امارت په حاکميت سره د فساد جرړي تر ډېره بريده وتلي دي، د فساد په سلنه کي د پام وړ کموالی راغلی دئ او په دې توانېدلي يو، چې حداقل د مفسدو هيوادونو له کتاره خپل هيواد بهر کړو او يا ئې کم تر کمه په دې ليست کي داسي ځای ته راولو، چې نور په فساد کي مطرح او د بحث وړ نه وي. دلته لومړی د فساد په رامنځته کېدونکو علتونو باندي لنډ، مګر جامع بحث کوو، بيا ئې اغېزې واضح کوو او په پای کي ئې د مخنيوي پر لارو چارو بحث کوو.

## په مالياتي نظام کي د فساد علتونه

- د پياوړې نظارت او څارني نشتون.
- د شفافيت او سټنډردونو اړوند پېچلي قوانين.
- د مالي مسؤلينو غفلتونه.
- کمزوری سازماني فرهنګ او تګلاره.
- کمزوری کاري روحيه.
- د اسلام پالني او وطن پالني د حس او احساس نه موجوديت.
- د کارکوونکو په تخلفاتو سترګي پټول.
- د کارکوونکو د امتيازاتو او مالي حقوقو کموالی.
- مديرانو ته له حده زيات له خپلو صلاحيتونو څخه ناوړه ګټه اخيستنه.
- د مجازاتو نشتون.

## د مالي فساد اغېزې

- د دولت د منابعو په تخصيص باندي فوق العاده منفي اغېز لري.
- د عوايدو په عادلانه وېش هم منفي اغېز لري.
- په اقتصادي وده او پرمختيا باندي منفي اغېز لري.
- د کم پيداکېدونکو سرچينو په ناسالم تخصيص منفي اغېز لري.
- د وګړو حقوق پايمال کېږي.
- د دولت لګښتونه لوړوي.
- د دولت عوايد کموي.
- اقتصادي او سياسي بې ثباتي رامنځته کوي.
- طبقاتي جوړښت رامنځته کوي.
- خلک له دولت څخه ناهيلي کېږي.
- اقتصاد د رکود تر کچي پوري رسوي.
- د بوديجي کسر رامنځته کوي.

## په مالي بنسټونو کي د فساد مخنيوي لارې چارې

د دې لپاره، چې د فساد مخه ونيول سي او عوايد په ښه شکل مديريت سي؛ نو لاندې کړنې د مالي مديريت لپاره خورا اړيني بولم:

- ټولو هېوادوالو ته شرعي لارښووني کول او دوی ته د هر ډول فساد اړوند ديني وعيدونه بيانول.
- په فکري لحاظ دوی ته د اسلام پالني او هيواد پالني روحيه ورکول.
- د هيواد د ټولو ګمرکونو د (اسيکودا) په سيستم کي د پولي ريکارډ پروسه ځارل.
- د ډېرو مطلوبو اشخاصو Cash inflow او Cash out flow بايد د اصل ريکارډ سره چک سي.
- د امکان تر حده، بايد بيروکراسي يا کاغذي سيستم راکم سي.
- د امکان تر بريده، بايد ټول سيستمونه الکترونيکي سي.
- که ممکنه وي د احتساب يا (Accountability) مرکزي کمېټه ايجاد سي.
- د سوداګريزو بانکونو او صرافيانو جدي ځار او کنټرول بايد د مرکزي بانک له لوري وسي.
- په فساد د مرتکب سوو کسانو مجازات کول.
- عامه پوهاوی.
- د نظارت يو جامع او پراخ سيستم رامنځته کول.
- په مالياتي نظام کي د فساد د مخنيوي اړوند ځيني پاليسۍ او قوانين تدوينول.

# اعلانات داوطلبی

### د کابل ولايت اړوند (١٦) مي، ناحيې د بګرامي نساجي د محوطې په داخل کي د (٢١٦٦) متره مربع ځمکي سره د يوه باب هنګر د مزايدې خبرتيا!

شنبه ۴/٦/١۴٠٢

د ماليې وزارت اړوند د دولتي املاکو لوی رياست غواړي، چي د کابل ولايت اړوند (١٦) مي، ناحيې د نساجي بګرامي د محوطي په داخل کي د (٢١٦٦) متره مربع ځمکي سره د يو باب هنګر د مزايدې لپاره اعلان ته و سپاري چي لومړنی مياشتنی قيمت ئي (٦٥٠٠٠) افغانۍ دئ. ټول هغه حکمي او حقيقي اشخاص چي غواړي نوموړی مليکت له ذکر سوي قيمت څخه په لوړ قيمت ونيسي کولای سي، چي خپل غوښتنليکونه د اعلان له خپريدو څخه وروسته د (٧) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی رياست ته وسپاري او د يادسوي ملکيت شرطپانه د اسنادو له ارزوني او لومړي قيمت ته په کتو تر لاسه کړي.

يکشنبه ٩/٧/١۴٠٢

### ګمرکونو او عوايدو معينيت د تشنابونو او پخلنځي د ترميم لپاره داوطلبي

يکشنبه ۵/٦/١۴٠٢

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د ګمرکونو او عوايدو معينيت د تشنابونو او پخلنځي ترميم) د پروژې په داوطلبۍ کي، چي تشخيصيه نمبر ئي (W/١٤٠٢/MOF-٠٤٦) او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي؛ نو شرطپانه ئې په پښتو او دری ژبه د فلش يا ميموري له لاري، چي د شرطپاڼي له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم پلي کېږي، له لاندي آدرسونو څخه ترلاسه کړئ. له داوطلبۍ څخه مخکي ناسته د (١۴٠٢/ وږي مياشت/ ١٨مه) د سهار پر ١٠:٠٠ بجې ترسره کېږي. د آفرګشايۍ ټاکلې نېټه: د (١۴٠٢/ وږي مياشت/ ٢٧ مه) د سهار ١٠:٠٠بجې. د آفر تضمين: ئې (٢٠٠٠٠) شل زره افغانۍ دئ. ځای: د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست - د تدارکاتو مشاوريت - پښتونستان واټ.

دوشنبه ٢٧/٦/١۴٠٢

### اعلان داوطلبی تهيه و تدارک نمبر پليت و دو نوع هيلوگرام سياه و سرخ ضرورت شرکت دولتی مطبعه صکوک و ضرابخانه

دوشنبه ٦/٦/١۴٠٢

وزارت ماليه از تمام داوطلبان واجد شرايط دعوت می نمايد تا در پروسه داوطلبی تهيه و تدارک نمبر پليت و دو نوع هيلوگرام سياه و سرخ ضرورت شرکت دولتی مطبعه صکوک و ضرابخانه، اشتراک نموده و شرطنامه مربوط را در حافظه يا فلش دسک در آمريت تدارکات وزارت ماليه بدست آورده، آفرهای خويش را مطابق شرايط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاريخ نشر اعلان الی ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر تاريخ ٢٩ سنبله ١٤٠٢ به رياست تدارکات وزارت ماليه واقع ناحيه ٢ پشتونستان وات ارايه نمايند، آفرهای ناوقت رسيده و انترنتی قابل پذيرش نمی باشد. تضمين آفر بصورت تضمين بانکی مبلغ ٢,٦٠٠,٠٠٠ (دو ميليون و ششصد هزار) افغانی بوده و جلسه آفرگشايی به تاريخ ٢٩ سنبله ١٤٠٢ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر در آمريت تدارکات تدوير می گردد.

چهارشنبه ٢٩/۶/١۴٠٢

### اعلان داوطلبی ترميم چهار باب هنگر و ذخيره آب گمرک اسلام قلعه و ترميم تعمير اداری

سه‌شنبه ٧/٦/١۴٠٢

وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرايط دعوت می نمايد تادر داوطلبی پروژهء (ترميم چهار باب هنگر و ذخيره آب گمرک اسلام قلعه و ترميم تعمير اداری) دارای نمبر تشخيصيه W/١٤٠٢/MOF-REBID-٠٣٩ که به روش داوطلبی باز صورت ميگيرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذريعهء فلش ميموری از آدرس ذيل مطابق شرايط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند. تاريخ مشخص آفرگشايی: تاريخ ٢٨/ سنبله/١٤٠٢ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر ميباشد. تضمين آفر: به مبلغ ٥٠,٠٠٠ ( پنجاه هزار) افغانی ميباشد. آدرس: وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان - رياست تدارکات، مشاوريت تدارکات منزل دوم. شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤٠٤٦ آفرهای دير رسيده و انترنتی پذيرفته نميشود.

سه‌شنبه ٢٨/٦/١۴٠٢

د امتياز خاوند: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: حبيب الله خُبيب
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ويبپاڼه: mof.gov.af
ټويټر: @ afghanistanmof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره: (+)۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰

شتمنى
SHTAMANAI
اوونيزه



د ماليې وزارت
د اړيکو او عامه پوهاوي رياست

## د کابل ګمرک، په ګمرکي طی مراحلو کې اسانتياوې رامنځته سوي دي

د ګمرکونو لوی رياست د رهبرۍ د هدايت له مخې د کابل ګمرک په ګمرکي طی مراحلو کې د پخوا په پرتله ډېرې اسانتياوې رامنځته سوي دي.

مخکي تر دې به سوداګريزو شرکتونو کابل ګمرک ته د خپلو محمولو د داخلېدو لپاره د ګمرک رياست ته عريضه کوله، چې طی مراحلو ئې زيات وخت ته اړتيا درلوده؛ خو اوس مهال د ګمرکونو لوی رياست د رهبرۍ د هدايت له مخې سوداګرو ته د اسانتيا رامنځته کولو په موخه د عريضې دغه پروسه له منځه يووړل سوه.

د دې ترڅنګ دا چې د هيواد تازه مېوې او سبزي هم په کابل ګمرک کې طی مراحلېږي، د يادو توکو له خرابوالي څخه د مخنيوي او مارکيټونو ته په خپل وخت د رسېدو لپاره د کابل ګمرک کاري موده تر (شپږ نيمو بجو) اوږده سوې او د يادو توکو د چټک طی مراحلو لپاره د بررسۍ او مرستندوی مېز برخې، دوه دوه يوزرونه هم زيات سوي دي.

د يادوني وړ ده، چې د ګمرکونو لوی رياست په دې هڅه کې دئ، چې د هيواد په ټولو ګمرکونو کې د سوداګرو لپاره لازمي اسانتياوې برابرې کړي او په دې برخه کې د دوی ټولې اصولي غوښتنې ومني.






www.mof.gov.af
afghanistanmof




## Notice of MoF regarding customs duty on coal!



Based on the demands of the coal exporting associations and the international prices aiming to further encourage the traders, by the proposal of the technical committee made up of Ministry of Finance (MoF), Ministry of Mines and Petroleum (MoMP), Ministry of Industry and Commerce (MoIC) and based on the decision of Deputy PM for Economic Affairs the customs duty of one ton of exported coal was reduced to $30, which is currently applicable in all customs offices of the country. It is worth mentioning that considering the international prices of coal, the prices of this commodity are changeable.

## Exact Assessment of State-owned Corporations Puts Them Back Strong Again




Based on the guidance of supreme leader of IEA, Amirul Momineen Sheikh Hibatullah Akhundzada (May Allah grand him & Protect him), under the leadership of his special representative Maulawi Ahmed Jan Bilal for the purpose of continuing to assess the State-owned Corporations (SOSs), The assessment of SOSs related to the Ministry of Finance (Handicrafts Development, National Bus, Afghan Cart, DABS, Afghan Poultry, Afghan Textiles and AFTANTO) by the Joint Technical Committee was also done well. In this evaluation process the history of SOSs, initial investment, previous and current situation of corporations, balance, income, expenses, plans, overall activities, achievements, existing problems, developments and many other related issues comprehensive information was provided to the leadership delegation in this regard. This evaluation can consider the plans made for the better development of the corporations and in case of deficiencies, the necessary attention should be paid to them, so that the active SOSs can move forward and the stagnant corporations can stand strong again. Since the re-establishment of IEA, more attention has been paid to the SOSs for the purpose that the corporations are the backbone of increasing the state›s revenues and these corporations can contribute significantly to the national budget of the country. For this reason, the leadership of IEA has appointed a special representative for the precise assessment of the corporations as under this leadership, a joint committee has been formed and is carrying out its work in this area in order to put the corporations back strong again.